# د مرثیو کِتاب

## پیژندګلو

د مرثیو په کِتاب کښې مونږ تباه کوونکی نتیجې وینو. کله چې بابلیانو یروشلم قبضه کړو نو د هغه وخت د پریشانۍ په حقله حضرت یرمیاه پیغمبر مونږ ته په خپلو سترګو کتلې قیصه په دې کِتاب کښې بیانوی. دا کِتاب مونږ له خبردارے راکوی کۀ یو کس ګناه وکړی او کۀ یو قوم نو د هغې نتیجې به داسې وی. د یروشلم خلقو بُت پرستی شروع کړه او د خُدائ پاک سره یې نزدې تعلق ختم کړو او د خپل ژوند لارې یې جدا کړې. خو بیا هم مونږ اُمید صرف او صرف د خُدائ پاک نه ساتلے شُو. د مرثیو دا کِتاب د پینځو مرثیو نه جوړ شوے دے او په دې کښې په هره یوه مرثیه کښې د یروشلم د راپریوتلو په حقله غم خرګند شوے دے. لکه څنګه چې په جنازه کښې وعظ کیږی دغسې په دې مرثیو کښې د یو قوم د تاوان غم بیان شوے دے. د دې کِتاب مقصد دا دے چې د خُدائ پاک نه اُمید ولرو د چا رحم چې هر سحر نوے او تازه کیږی او د چا وفاداری چې عظیمه ده هغه خلقو دپاره هم څوک چې پخپله بېوفا دی. د حفظ کولو دپاره ۲۳:۳ آیت "د هغۀ رحم هر سحر نوے او تازه کیږی او د هغۀ وفاداری بېشانه لویه ده."

١ ١ افسوس، افسوس، هغه ښاریه څنګه یواځې پاتې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوه، چې په يو وخت کښې هغه د خلقو نه ډکه وه. هغه څنګه
لکه د يوې کونډې په شان شوه، هغه چې په يو وخت کښې په
قومونو کښې ډېره لويه وه. د نورو ښارونو په نسبت هغه لکه
د شهزادګۍ وه خو اوس هغه غريبه غلامه شوه. ۲ هغه
ټوله شپه په سلګو او ژړا تېروی، او په مخ يې د اوښکو
سېلابونه بهيږی. په ټولو عاشقانو کښې يې يو هم پاتې نۀ وو،
چې ورله تسلی ورکړی. د هغې ټولو دوستانو د هغې سره
بې‌وفائی کړې ده، او د هغې دشمنان جوړ شوی دی. ۳
يهوداه جلاوطن کړے شو، د ډېرو سختو مشقتونو سره هغه
د نورو مُلکونو په مينځ کښې اوسيږی، او د اوسېدو دپاره هغه
د آرام ځائ نۀ لری. د هغۀ دشمنانو هغه راګېر کړو، او هغۀ
ته د تښتېدو موقع نۀ وه. ۴ صيون ته د تلو لارې خالی دی
او ماتم کوی، څوک هم ورته اوس د اخترونو دپاره نۀ راځی.
د ښار دروازې ټولې خاموشه شوې دی، او د دې اِمامان
اسويلی کوی. د هغې پيغلې غمژنې دی، او د هغې تکليفونه
تراخۀ دی. ۵ د هغې دشمنان په هغې اختيارمن شول، او د
هغې دشمنان آرام او پُرسکونه ژوند تېروی. مالِک خُدائ
داسې ځکه وکړل، چې سرکشی يې ډېره وه. د هغې ماشومان
ونيولے شول، او لرې مُلک ته جلاوطن کړے شول. ۶ د
لور صيون ټوله لوئی ختمه شوه، او د هغې نه ټول شان او
شوکت لاړو. شهزادګان يې لکه د هغه هوسو په شان شول،
چې د څرن ځائ موندلے نۀ شی. هغوئ خو دومره کمزوری
شوی وُو، چې د ښکاری نه تښتېدلے نۀ شول. ۷ يروشلم
ښاريې ته هغه وخت ياد دے په کومو ورځو کښې چې
زورېدلې او سرګردانه وه، ټول قيمتی څيزونه ورته ياد وُو
کوم چې پخوا هغې سره وُو. کله چې هغه د دشمن لاسونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې پرېوته، او داسې هيڅ څوک نۀ وُو چې د هغې مدد
وکړى، دشمن د هغې د شکست تماشه کوله او د هغې په
راغورزېدلو خوشحاله شو. ۸ يروشلم ښارېې سخته ګناه
وکړله او د هغې په وجه پليته شوه. هر چا چې د هغې عزت
کولو اوس ورته سپک ګورى ځکه چې دوئ هغه برېنډه او
عاجزه وليده. هغه په خپله په زوره زبيرګى کوى او د شرم نه
خپل مخ په لاسونو پټوى. ۹ د هغې په لمن د ناپاکئ داغونه
لګېدلى وُو، هغې د خپل اَنجام څۀ سوچ نۀ کولو، د هغې
راغورزېدل وحشتناکه وو، څوک داسې نۀ وو چې هغې له
تسلى ورکړى. "مالِکه خُدايه، زما دې تکليفونو ته وګوره،
ځکه چې دشمن په ما غالب شوے دے." ۱۰ دشمن خپل
لاسونه وراوږدۀ کړل او د هغې ټول قيمتى څيزونه يې لوټ
کړل. هغې په خپله وليدل چې غېر قومونه د هغې مقدس ځائ
ته داخل شول، اګر چې تا دغه خلق خپل جماعت ته د
داخلېدو نه منع کړى وُو. ۱۱ ټولو خلقو يې د روټئ په تلاش
کښې آهونه کول. د خوراک دپاره يې خپل قيمتى څيزونه
خرڅ کړل چې پرې خپل ځانونه ژوندى وساتى. "اے مالِکه
خُدايه، ما ته وګوره زۀ څومره سپکه کړے شوې يم. ۱۲
ولې ستاسو دپاره دا هيڅ هم نۀ دى، تاسو ټول څوک چې په
لاره تېرېږئ؟ راشئ او وګورئ کۀ چرې زما په شان غم او
درد بل چرته وى، کوم چې مالِک خُدائ نازل کړو په هغه
ورځ چې هغه په قهر وو. ۱۳ هغۀ بره د آسمان نه اور
راولېږلو او هغه زما هډوکو ته ورکوز شو. هغۀ زما پښو ته
جال وغوړولو او زۀ يې د تلو نه منع کړم. هغۀ زۀ ګنګس
کړې پرېښودم او ټوله ورځ بيماره وم. ۱۴ زما سرکشى يو
جغ پورې تړلے شوې وه او د هغۀ لاسونو دا تړلى وُو. هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما په غاړه بار شو او زما زور يې ختم کړو. مالِک زۀ هغوئ
ته حواله کړمه د چا چې زۀ مقابله نۀ شم کولے. ۱۵ مالِک
زما ټول فوجيان رد کړل کوم چې ما سره وُو. هغۀ زما
خلاف د لښکر اعلان وکړو چې زما ځوانان غويل کړى.
مالِک د يهوداه نيازبين ښار لکه د انګور په شان په لنګرۍ
کښې نچوړ کړو. ۱۶ نو په دې کارونو زۀ ژړېږم او سترګو
نه مې اوښکې بهيږى. نزدې څوک هم نشته چې ما له تسلى
راکړى او يا ما له حوصله راکړى. زما ماشومان غمژن
شوى دى ځکه دشمن په ما غالب دے.“ ۱۷ صيون خپل
لاسونه د مدد دپاره غزوى، خو هيڅ څوک نشته چې تسلى
ورکړى. مالِک خُدائ د يعقوب خلاف حکم وکړو چې د هغۀ
ګاونډيان به د هغۀ دشمنان شى. د يروشلم نه د هغوئ په مينځ
کښې پليته کپړه جوړه شوې ده. ۱۸ ”مالِک خُدائ په حقه
دے ځکه ما د هغۀ د حکم نه سرکشى کړې ده. خو اے ټولو
خلقو ما ته غوږ شئ، زما غمونو او دردونو ته وګورئ، زما
پېغلې ښځې او ځوانان سړى د جلاوطنۍ دپاره بوتلے شوى
دى. ۱۹ ما خپلو عاشقانو ته آواز وکړو خو هغوئ ما له
دوکه راکړه. کله چې اِمامانو او مشرانو د خپلو ځانونو
ژوندى ساتلو دپاره خوراک لټولو نو هغوئ په ښاريه کښې
مړۀ شول. ۲۰ وګوره، اے مالِکه خُدايه زۀ څومره زوريدلې
يم او زما روح خفه دے او زړۀ مې ناسازه دے ځکه چې زۀ
ډيره سرکشه وم. بهر په کوڅو کښې تُورې د بچو نه خلاصه
کړم او په کور کښې دننه هم مرګ راپسې دے. ۲۱ هغوئ
واورېدل چې ما څنګه زيرګى کول خو داسې څوک نشته
چې ما له تسلى راکړى. زما ټولو دشمنانو زما د تکليفونو په
حقله واورېدل او هغوئ خوشحاله شول چې دا تا په ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوستی دی. هغه ورځ پرې راوله د کومې چې تا اعلان کړې
دے نو هغوئ به هم زما په شان شی. ﴿٢٢﴾ د هغوئ ټول
بدکارونه دې تا ته ښکاره شی. هغوئ له هغسې سزا ورکړه
لکه څنګه چې تا ما له زما د ټولې سرکشئ په وجه راکړې ده.
زما کړاونه او زبیرګی زیات دی او زما زړهٔ بېقراره شوے
دے."

## ٢

﴿١﴾ افسوس، مالِک په خپل قهر د لور صیون نیازبین
ښار د شرم سره مخ کړو، هغهٔ د اِسرائیل شان و شوکت د
آسمان نه زمکې ته راوغورزولو. هغهٔ په خپل کور باندې هیڅ
رحم ونهٔ کړو کله چې هغه په قهر او غضب کښې وو. ﴿٢﴾
مالِک په بې‌رحمئ سره د یعقوب د اوسېدو ټول ځایونه تباه
کړل. او په خپل قهر کښې هغهٔ د لور یهوداه د ښار مضبوطې
قلعه ګانې راوغورزولې. په بې‌عزتئ سره هغهٔ زمکې ته
بادشاهی او د دې بادشاهان راوغورزول. ﴿٣﴾ هغهٔ په خپل
قهر و غضب کښې د اِسرائیلو ټول طاقت ختم کړو. کله چې
دشمن حمله وکړه نو مالِک خپل ښے لاس د هغوئ مدد نه
وروستو کړو. هغه په اِسرائیل کښې لکه د اور لمبه شو او
ګېرچاپېره هر یو شے یې وسوزولو. ﴿٤﴾ هغهٔ لکه د دشمن په
شان خپله لینده راښکله او هغهٔ خپل ښے لاس لکه د دشمن
ګزار ته تیار کړو. هغهٔ هغه ټول ووژل څوک چې په مونږ
ګران وُو، هغهٔ خپل غضب لکه د اور په شان د لور صیون په
نیازبینې خېمې راوورولو. ﴿٥﴾ مالِک د هغوئ د دشمن په
شان شو، هغهٔ اِسرائیل تباه کړو، هغهٔ د هغهٔ ټول محلونه تباه
کړل، د هغهٔ مضبوطې قلعه ګانې یې تباه کړې. هغهٔ د لور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهوداه ښار په ماتمونو او مرثیو کښې اضافه وکړه. ۶ هغهٔ
خپل کور داسې په آسانه راوغورزولو لکه تهٔ به وائې چې په
باغ کښې یې جونګړه راوغورزوله، او د عبادت مقدس ځائ
یې تباه کړو. مالِک خُدائ په صیون مقدس اخترونه او د
سبت د ورځو یادونه هېر کړل. په خپل سخت قهر او غضب
کښې یې بادشاه او اِمام دواړه رد کړل. ۷ مالِک خپله
قربانګاه سپکه کړه، او خپل مقدس مقام یې پرېښودلو. هغهٔ
د دشمن لاسونو ته د خپل محلونو دېوالونه حواله کړل.
دشمن د مالِک خُدائ په کور کښې چغې کړې لکه څنګه چې
د اختر په ورځ خلق کوی. ۸ مالِک خُدائ دا فېصله وکړه
چې د صیون ښار دېوالونه وران کړی. هغهٔ د ورانولو دپاره د
ناپ تول ګز راوغزولو او خپل لاس یې د هغهٔ د تباهۍ نه منع
نهٔ کړو. د هغهٔ دېوالونه او د هغهٔ مورچې یې په ماتم آخته کړې
او دواړه په یو ځائ تباه شول. ۹ د یروشلم دروازې په
زمکه کښې ډوبې شوې دی، او د هغې اړمونه او تالې یې تباه
کړې دی. د هغې بادشاه او شهزادګان نورو قومونو ته
جلاوطن کړے شوی دی. نور د مالِک خُدائ نه شریعت نهٔ
ملاوېږی او نهٔ نورې وحی د هغهٔ پېغمبرانو ته د مالِک خُدائ
نه راځی. ۱۰ د صیون مشران په زمکه په خاموشۍ سره
ناست دی. هغوئ په خپلو سرونو خاورې اچولې دی او د
ټاټ جامې یې اغوستې دی. د یروشلم پېغلو جینکو خپل
سرونه د شرم نه زمکې ته ټیټ کړی دی. ۱۱ زما سترګې د
خفګان نه په ژړا سترې شوې دی. زما زړهٔ د غم نه نا آرامه
دے. زما زړهٔ د خفګان نه چاؤدلے دے، په دې وجه چې زما
خلق تباه شوی دی ځکه چې د پیو او وارهٔ ماشومان بېهوشه
دی او د ښار په سړکونو دپاسه مړاوی کېږی. ۱۲ هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو میندو ته ژاړی چې، ”خوراک او څښاک چرته دے؟“
هغوئ لکه د زخمیانو په شان بې‌حاله دی، د ښار په کوڅو
کښې بې‌حاله دی او هغوئ د ژوند نه لاس ووینځلو د مور په
غېږ کښې د هغوئ ژوند ختم شو. ۱۳ زۀ ستا په حقله څۀ
ووایم، او د چا سره دې برابره کړمه؟ اے یروشلم لورې، تا د
څۀ سره مقایسه کړمه چې تا ته تسلی درکړمه؟ اے صیون
پېغلې لورې، د سمندر د ژوروالی په اندازه ستا تباهی ده،
څوک به تا ته شفا درکړی؟ ۱۴ ستا پېغمبرانو ستا دپاره
بې‌مطلبه او دوکه مارې رویاګانې ولیدلې. هغوئ ستاسو
ګناهونه ښکاره نۀ کړل چې تاسو د جلاوطنۍ نه بچ کړی. خو
تاسو ته یې د دروغو او بې‌لارې کوونکی پېغامونه واورول.
۱۵ هغوئ ټول څوک چې په دې لاره تېرېږی هغوئ تا پورې
ملنډې وهی. هغوئ د مسخرو نه خپل سرونه خوځوی او د
لور یروشلم ښار پورې خندا کوی. ”آیا دا هغه ښار نۀ وو
کوم به چې یادېدو، او په خپل ښائست کښې بې‌عیبه وو، او د
ټولې دُنیا د خوشحالۍ سبب وو؟“ ۱۶ ستا ټول دشمنان تا
پورې خندا کوی، او ستا خلاف یې خپلې خولې کولاو کړې
دی، هغوئ نیغ نیغ ګوری او خپل غاښونه چیچی، او هغوئ
چغې وهی چې، ”مونږ هغه لواړه تېره کړه. مونږ د دې ورځ
انتظار کولو او آخر مو ولیدله.“ ۱۷ نو مالِک خُدائ خپل
مقصد پوره کړو، هغۀ د خپل مقصد خبردارے ورکړو، چې
د ډېر پخوا نه یې خبردارے ورکړے وو، هغۀ په بې‌رحمۍ
سره هر څۀ تباه کړل. هغۀ ستا دشمنان په تا خوشحاله کړل
او هغۀ ستا د دشمنانو زور په تا اوچت کړے دے. ۱۸
مالِک ته په زوره چغې ووهه، اے د نیازبین صیون لور
دېوالونو، د اوښکو نِهرونه دې لکه د سېلاب په شان ویهېږی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په شپه او ورځ کښې دې وبهيږى. خپل ځان ته آرام مهٔ
ورکوه او په سترګو دې ژړا مهٔ بندوه. ١٩ ”راپاڅه، او په
شپه کښې ژړا وکړه، په هره شپبه کښې د مالِک په حضور
کښې د خپل زړهٔ حال راڅرګند کړه. او خپل لاسونه هغهٔ ته
پورته کړه د خپلو ماشومانو د ژوند دپاره څوک چې د کوڅو
په هر ګوټ کښې د لوږى نه مړهٔ کيږى.“ ٢٠ وګوره، اے
مالِکه خُدايه، او غور وکړه. تا داسې د چا سره کړى دى؟
ولې ميندې دې خپل ماشومان خورى چې هغوئ زيږولى
دى؟ ولې اِمامان او پيغمبران دې د مالِک په مقدس کور
کښې قتل کړے شى؟ ٢١ زاړهٔ او زلمى په کوڅو کښې پراتهٔ
دى، په زمکه په کوڅو کښې زما ځوانې ښځې او ځوانان
سړى په تُوره راغورزولے شوى دى. د خپل قهر په ورځو
کښې تا هغوئ مړهٔ کړل او په بې‌رحمئ سره مو حلال کړل.
٢٢ تا د هرې خوا نه زما دشمنانو له دعوت ورکړو لکه چې
د اختر د ورځ دپاره دې راغوښتى وى. او د مالِک خُدائ د
قهر په ورځو کښې نه څوک تښتېدلے شُو او نه څوک بچ
کېدلے شُو. هغوئ څوک چې ما زيږولى وُو او په ما ګران
وُو زما دشمن هغه تباه کړل.

## ٣

١ زهٔ هغه کس يم چا چې د مالِک خُدائ د غضب د
چُوکې نه تکليفونه ليدلى دى. ٢ هغهٔ زهٔ په رابشکلو تيارې ته
راوستم چې هيڅ رڼا په کښې نهٔ وه. ٣ يقيناً چې هغهٔ زما په
خلاف خپل لاس ټوله ورځ بار بار راوچت کړو. ٤ هغهٔ زما
ټول ځان په وهلو تک شين کړو او زما هډُوکى يې مات کړل.
٥ هغهٔ زهٔ په ترېخوالى او غمونو کښې ايسار او راګېر
کړے يم. ٦ هغهٔ زهٔ په زوړ قبر کښې په توره تياره کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښېنولم. ۷ هغهٔ زهٔ په دېوالونو کښې راګېر کړم چې ونهٔ
تښتم او په درنو زنځيرونو يې تړلے يم. ۸ تر دې چې ما
آواز وکړو او مدد دپاره په چغو وژړېدم، هغهٔ زما دُعاګانو ته
توجو نهٔ ورکوله. ۹ هغهٔ زما لارې د تراشلے شوو کاڼو په
دېوال بندې کړې دى، او هغهٔ زما لارې ګډې وډې کړې دى.
۱۰ هغه لکه د ميلو زما په انتظار کښې پروت دے او لکه
چې زمرے د حملې دپاره پټ شوے وى. ۱۱ هغهٔ زهٔ د لارې
نه بې‌لارې کړم، او ټوټې ټوټې يې کړم. او هغهٔ زهٔ وران ويجاړ
او بې‌ياره بې‌مددګاره پرېښودم. ۱۲ هغهٔ خپله لينده راښکله
او د خپلو غشو دپاره يې نښه وګرځولم. ۱۳ هغهٔ زما زړهٔ
سورے سورے کړو او د خپل تيردان په غشو يې ووېشتم.
۱۴ زهٔ د خپلو خلقو د خندا ذريعه شوم، ټوله ورځ ما ته
پيغورونه کوى. ۱۵ هغهٔ زهٔ په ترخو خوراکونو موړ کړم، او
د ښځلو دپاره يې د تريخ ګندېر نه ډکه پياله راکړه. ۱۶ هغهٔ
زما په غاښونو کښې باجرى ورکړه، او په خاورو ايرو کښې
يې ومندلم. ۱۷ زما زړهٔ د سلامتيا نه خالى شوے دے او ما
نه هېر دى چې خوشحالى څهٔ ته وائى. ۱۸ نو زهٔ دا وايم،
”زما طمع او اُميد لاړو او څهٔ چې زما د مالِک خُدائ نه اُميد
وو هغه ختم شو.“ ۱۹ زما مصيبتونه او خوار و زار
ګرځېدل ما ته يادېږى، او هغه ما ته د ګندېر نه هم تراخهٔ دى.
۲۰ زهٔ بار بار د هغهٔ په حقله سوچ کوم او زما روح په ما
کښې پرېشانه دے. ۲۱ خو بيا هم زهٔ په خپل سوچ کښې دا
راولم او په دې وجه زهٔ بيا هم اُميدوار يم. ۲۲ د مالِک
خُدائ پائيداره مينه هيڅکله نهٔ ختميږى او د هغهٔ رحم هيڅکله
نهٔ ختميږى. ۲۳ د هغهٔ رحم او مينه هر سحر نوے او تازه
کيږى او د هغهٔ وفادارى بې‌شانه لويه ده. ۲۴ ”مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما نصیب دے،“ او زۀ خپل ځان ته دا وایم، ”نو په دې وجه
زۀ به د هغۀ نه اُمید ساتم.“ ۲۵ مالِک خُدائ هغه چا سره
ښۀ دے څوک چې په هغۀ باور کوی او هغه کس څوک چې
د هغۀ تلاش کوی. ۲۶ دا ښۀ ده چې یو کس په خاموشئ
سره انتظار وکړی، د مالِک خُدائ خلاصون ته انتظار
وکړی. ۲۷ د یو کس دپاره دا ښۀ ده چې په ځوانئ کښې جغ
یوسی، ۲۸ چې په خاموشئ کښې ځان له کښېنی، څۀ چې
مالِک خُدائ پرې ایښے وی. ۲۹ هغه دې خپل ځان پړمخې
په خاورو کښې وغورزوی، کېدے شی چې څۀ اُمید پاتې وی.
۳۰ ظالم ته دې د وهلو دپاره خپل مخ ورواړوی او د هغۀ د
لاسه دې بې‌عزتی قبوله کړی. ۳۱ ځکه مالِک به انسان د تل
دپاره نۀ رد کوی. ۳۲ دا کۀ هغه غم راولی، هغه به رحم هم
کوی، د هغه مینې په مطابق چې ډېره او پائیداره ده. ۳۳ هغه
چا ته په تکلیف رسولو نۀ خوشحالېږی او نۀ څوک په غم
آخته کوی. ۳۴ کله چې په مُلک کښې ټول قېدیان د پښو
لاندې چخنې کړی، ۳۵ او کله چې یو انسان د خُدائ تعالىٰ
په وړاندې د بل چا حق په زور وهی، ۳۶ کله چې یو سړے
په عدالت کښې څوک د اِنصاف نه محروموی، ولې مالِک
داسې ظلم نۀ ګوری؟ ۳۷ څوک په خپل حکم څۀ کار کولے
شی ترڅو چې مالِک په خپله د هغې حکم نۀ وی کړے؟ ۳۸
ولې د خُدائ تعالىٰ د خوا نه ښۀ او بد دواړه نۀ راځی؟ ۳۹
نو بیا ژوندے انسان ولې شکایت کوی کله چې ورته د خپلو
ګناهونو سزا مِلاو شی. ۴۰ راځئ چې مونږ خپلې طریقې
وآزمایو او مالِک خُدائ ته واپس راوګرځُو. ۴۱ راځئ چې په
اخلاص خپل لاسونه پورته کړُو او آسمانی خُدائ پاک ته
داسې ووایو، ۴۲ ”مونږ ګناه او سرکشی وکړه او تا مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معاف کړی نۀ یُو. ۴۳ تا خپلې د قهر جامې واغوستلې او
مونږ پسې شوې او په بےرحمۍ سره دې مونږ مړۀ کړُو. ۴۴
تا خپل ځان په وریځ کښې ونغښتلو ترڅو هیڅ دُعا هم تا ته
در ونۀ رسیږی. ۴۵ تا مونږ پلیت کړُو او د قومونو په مینځ
کښې دې رانه د ګند ډېرے جوړ کړُو. ۴۶ زمونږ ټولو
دشمنانو زمونږ خلاف خپلې خولې وازې کړې. ۴۷ یرې
واخستُو او په کنده کښې وغورزېدُو. تباهی او بربادی
راباندې راغله. ۴۸ زما د خلقو د تباهۍ په وجه زما د سترګو
نه د اوښکو سیندونه بهیږی. ۴۹ زما سترګو نه به اوښکې
جاری وی بې له آرامۀ کولو نه، ۵۰ ترڅو چې مالِک خُدائ
پاس د آسمان نه نظر واچوی او دا حال وګوری. ۵۱ چې
کله زۀ په ښار کښې د ټولو ښځو حالت ګورمۀ نو زما زړۀ
غمژن شی. ۵۲ هغوئ څوک چې هیڅ بےهیڅه زما دشمنان
وُو هغوئ لکه د مرغۍ په شان زۀ وویشتم. ۵۳ هغوئ زۀ
ژوندے په کنده کښې ورواچولم او په ما یې کانړی راوویشتل.
۵۴ اوبۀ زما تر سره راورسېدلې او وئیل مې چې ډوبیږم.
۵۵ اے مالِکه خُدایه، ما د کندې د بېخ نه ستا په نامه مِنت
زاری وکړه. ۵۶ تا زما خواست اوریدلے دے، خپل غوږونه
مۀ بندوه، د مدد دپاره زما آواز واوره. ۵۷ تۀ ما ته رانزدې
شوې کله چې ما درته آواز وکړو، تا ما ته وفرمائیل چې
یریږه مه. ۵۸ اے مالِکه، تا زما مسئله راوچته کړه او تا زما
ژوند بچ کړو. ۵۹ اے مالِکه خُدایه، کوم بد چې ما سره
وشُو تا هغه ولیدل، زما د مسئلې اِنصاف وکړه. ۶۰ تا د
هغوئ د انتقام ټول اور ولیدو، د هغوئ ټولې منصوبې زما
خلاف دی. ۶۱ اے مالِکه خُدایه، تا د هغوئ ټول پیغورونه
واوریدل، د هغوئ ټولې منصوبې چې زما خلاف دی. ۶۲

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما مخالفین ټوله ورځ زما خلاف پس پس او ګنګوسې کوی.
۶۳ هغوئ ته وګوره، سحر نه تر ماښامه پورې، زۀ د هغوئ
د پیغورونو په سندرو کښې نمونه یم. ۶۴ اے مالِکه خُدایه،
هغوئ ته بدله ورکړه، هغوئ ته د خپل عمل په مطابق بدله
ورکړه. ۶۵ هغوئ په زړونو غمژن کړه او ستا لعنت دې په
هغوئ باندې وی. ۶۶ هغوئ په خپله غصه کښې راونیسه،
مالِکه خُدایه، د زمکې د مخ نه یې جارُو کړه.“

۴ ۱ وګورئ چې د سرو زرو ځلا څنګه تته شوه، او چې
خالص سرۀ زر څنګه بدل شوی دی، او د مقدس ځائ کاڼی
د هر یو سړک په هر ګوټ کښې خوارۀ وارۀ شُو. ۲ د
صیون بیش قیمته ماشومان، چې د خالص سرو زرو په تول
وُو، خو اوس هغه لکه د خاورین لوښو په شان دی، لکه چې
کُلال جوړ کړی وی. ۳ تر دې چې ګیدړه هم خپلو
ماشومانو ته سینه ورکوی، خو زما خلق ظالمان شوی دی
لکه شترمرغ چې په صحرا کښې وی. ۴ د پیو د ماشومانو
ژبې انښتې دی او د تندې نه تالو ته ورغلې دی. ماشومان
روټۍ پسې ژاړی خو هیچا سره هم نشته چې هغوئ له
ورکړی. ۵ هغه چا چې به خوندور خوراکونه کول هغوئ
اوس په کوڅو کښې د لوږې نه مړۀ کیږی. هغوئ چا چې به
قیمتی کپړې استعمالولې اوس هغوئ د ګند په ډېرو کښې د
خوراک لټون کوی. ۶ زما د خلقو سزا د سدوم د خلقو نه
زیاته ده، کوم چې په یو شیبه کښې تباه شُو او هیچا پرې
لاس ونۀ مروړلو. ۷ د صیون حکمرانان د واورې نه زیات
صفا وُو او د پیو نه زیات سپین وُو. د هغوئ بدن د مرجانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه زيات سور وو، او د هغوئ شکلونه او صورتونه د نيلم
کانې په شان ښکارېدل. ٨ خو اوس د هغوئ مخونه
سکارو نه زيات تور دی. هغوئ په لارو کوڅو کښې د خلقو د
پېژندګلو نه وتی دی. د هغوئ څرمن د هغوئ هډوکو پورې
انښتې ده او هغه لکه د پوستکی په شان اوچه شوې ده. ٩
هغوئ څوک چې په تُوره مړۀ شوی وُو د هغه چا نه ښۀ وُو
چې د قحط نه مړۀ شوی وُو. او د پټی نه د فصل د نشتوالی
په وجه هغوئ د لوږو نه مړۀ شول. ١٠ کله چې زما قوم تباه
کېدو نو د لوږې نه مهربانه ميندو هم خپل ماشومان پاخۀ
کړل او وې خوړل. ١١ مالِک خُدائ خپل ټول غضب په
دوئ ظاهر کړو او هغۀ خپل سخت قهر رانازل کړو. هغۀ په
صيون کښې اور بل کړو. او هغه يې تر بنيادونو وسوزولو.
١٢ د دُنيا بادشاهانو په دې يقين نۀ کولو، او نۀ پرې د دُنيا يو
اوسېدونکی باور کولو، چې مخالفين او دشمنان به د يروشلم
په لويو دروازو کښې راننوځی. ١٣ خو دا د هغې د پېغمبرانو
د ګناه په وجه وشو او د اِمامانو په جرمونو سره وشو، چا
چې د ښار په مينځ کښې د صادقانو وينه تويه کړه. ١٤
هغوئ لکه د ړندو په کوڅو کښې سرګردانه ګرځېدل. او په
وينو داسې لت پت وُو چې چا يې جامو له د لاس وروړلو
جرأت نۀ کولو. ١٥ ”اخوا شئ ناپاکو،“ خلقو په هغوئ چغې
ووهلې، ”اخوا شئ، اخوا شئ، لاس مۀ راوړئ.“ نو بيا هغوئ
لرې وطنونو ته وتښتېدل او په غېرو قومونو کښې سرګردانه
ګرځېدل خو هيچا هلته پاتې کېدلو ته نۀ پرېښودل. ١٦ مالِک
خُدائ په خپله هغوئ خوارۀ وارۀ کړل او نور يې د هغوئ قدر
نۀ کولو. خلقو نۀ د اِمامانو عزت کولو او نۀ يې په مشرانو
رحم کولو. ١٧ په ډېرو کتو مو سترګې ړندې شوې خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بےفائدې، هيڅ مدد رانۀ غلو. مونږ د داسې يو قوم په انتظار
ؤو چې زمونږ بچ کول د هغوئ د وس کار نۀ وو. ۱۸ مونږ
په خپلو کوڅو کښې نۀ شُو ګرځېدلے ځکه چې دشمن راته
مورچه شوے دے. زمونږ آخر رانزدې شوے وو، او زمونږ
ورځې شمېرلے شوې وې، ځکه چې زمونږ اَنجام رارسېدلے
وو. ۱۹ زمونږ دشمنان به د باز نه زيات تېز ؤو، کۀ مونږ به
غرونو ته وزغلېدو نو هلته به يې پېدا کړُو او کۀ په صحرا
کښې به پټ شُو نو هغوئ به هلته زمونږ انتظار کولو. ۲۰ د
مالِک خُدائ غوره کړے شوے بادشاه چې زمونږ د ژوند
ساه ده، هغه د هغوئ په دام کښې راګېر شوے وو، د چا په
حقله چې مونږ وئيل چې، ”د هغۀ د سورى د لاندې به مونږ د
قومونو په مينځ کښې اوسېږو.“ ۲۱ اے د ادوم لورې، اوس
خندا او خوشحالى وکړه، او تاسو څوک چې په عُوض کښې
اوسېږئ، تاسو ته به هم د مالِک خُدائ د غضب پياله
درکړے شى، تاسو به نشه شئ او خپل ځان به بربنډ کړئ.
۲۲ اے صيون لورې، ستا سزا به پوره شى، هغه به تا نور
په جلاوطنۍ کښې ونۀ ساتى. خو اے د ادوم لورې، هغه به تا
له ستا د ګناهونو سزا درکړى او ستا ګناهونه به ښکاره
کړى.

۵ ۱ اے مالِکه خُدايه، رایاد کړه چې په مونږ څۀ وشو،
وګوره چې زمونږ څنګه بےعزتى شوې ده. ۲ زمونږ ميراث
غېرو ته حواله شوے دے او زمونږ کورونه پردو خلقو قبضه
کړى دى. ۳ مونږ يتيمان او بےپلاره شوى يُو او زمونږ
ميندې کونډې شوې دى. ۴ مونږ د څښلو اوبۀ او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوزولو خشاک په بیعه اخلو. ۵ هغوئ څوک چې مونږ
پسې ؤو راته په سر ناست دی او مونږ ډېر ستومانه شُو خو
هیڅ آرام ته مو نهٔ پرېږدی. ۶ مونږ خپل ځان مِصر او
اسور ته حواله کړو چې مونږ ته پوره روټۍ مِلاو شی. ۷
زمونږ پلار نیکهٔ ګناه وکړه خو هغوئ مړهٔ دی او اوس مونږ د
هغوئ د ګناه سزا خورو. ۸ غلامان په مونږ حکومت کوی
او هیڅ څوک نشته چې مونږ د هغوئ د لاس نه آزاد کړی.
۹ مونږ د روټۍ پیدا کولو دپاره خپل ځان په خطره کښې
اچولے دے ځکه چې په ټوله علاقه کښې وسله وال ګرځی.
۱۰ زمونږ څرمن لکه د تنور په شان ګرمه ده، د قحط د ډېر
تاو نه سوزېدلې ده. ۱۱ په صیون کښې د ښځو عزت لوټ
شوے دے او د یهوداه په ښارونو کښې د پېغلو عزت لوټ
شوے دے. ۱۲ دوئ شهزادګان د لاسونو نه راځوړند کړی
دی او د مشرانو بې‌عزتی یې کړې ده. ۱۳ په ځوانانو په زور
مېچنې ګرځولے شی، او زلمی د لرګو د درنو بارونو لاندې په
تکلیف روان دی. ۱۴ مشرانو د ښار په دروازه د جرګو
ځایونه پرېښودل او ځوانانو خپل ساز و سرود پرېښودو. ۱۵
زمونږ د زړهٔ خوشحالی رانه اخستے شوې ده او زمونږ ګډا
په ماتم بدله شوې ده. ۱۶ زمونږ نه تاج و تخت اخستلے
شوے دے، افسوس په مونږ ځکه چې مونږ ګناه کړې ده.
۱۷ ځکه د دې په وجه زمونږ زړونه مات شوی دی او د ژړا
په وجه زمونږ نظر کم شوے دے. ۱۸ دا چې د صیون غر
وران ویجاړ پروت دے او ګیدړان په کښې اوسیږی. ۱۹ خو
تهٔ اے مالِکه خُدایه، د تل دپاره حکومت کوې او ستا تخت په
ټولو نسلونو کښې قائم پاتې کیږی. ۲۰ تا ولې مونږ بلکل هېر
کړی یُو؟ تا ولې مونږ ډېرو ورځو نه پرېښی یُو؟ ۲۱ اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِکه خُدايه مونږ ځان ته راوبله، مونږ بحال کړه او زمونږ
حال د مخکښې په شان کړه. ۲۲ ولې تا مونږ تل دپاره رد
کړې يُو؟ او تۀ مونږ ته د حد نه زيات غصه يې؟


pashtobibles.org © يوسفزى ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.